# صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي جَمَاعَةٍ تَزِيدُ عَلَى صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ وَصَلَاتِهِ فِي سُوقِهِ بِضْعًا وَعِشْرِينَ دَرَجَةً?

له أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي جَمَاعَةٍ تَزِيدُ عَلَى صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ وَصَلَاتِهِ فِي سُوقِهِ بِضْعًا وَعِشْرِينَ دَرَجَةً، وَذَلِكَ أَنَّ أَحَدَهُمْ إِذَا تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ أَتَى الْمَسْجِدَ لَا يَنْهَزُهُ إِلَّا الصَّلَاةُ، لَا يُرِيدُ إِلَّا الصَّلَاةَ، فَلَمْ يَخْطُ خَطْوَةً إِلَّا رُفِعَ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ، وَحُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ، حَتَّى يَدْخُلَ الْمَسْجِدَ، فَإِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ كَانَ فِي الصَّلَاةِ مَا كَانَتِ الصَّلَاةُ هِيَ تَحْبِسُهُ، وَالْمَلَائِكَةُ يُصَلُّونَ عَلَى أَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِي مَجْلِسِهِ الَّذِي صَلَّى فِيهِ، يَقُولُونَ: اللهُمَّ ارْحَمْهُ، اللهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، اللهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ، مَا لَمْ يُؤْذِ فِيهِ، مَا لَمْ يُحْدِثْ فِيهِ». «په جماعت سره د يو سړي لمونځ د كور او بازار د لمانځه په پرتله څه د پاسه شل درجې لوړې دي، دا ځكه چې كه له دوی څخه يو څوک ښايسته اودس وكړي. بيا جومات ته راشي او يوازې لمونځ يې جومات ته راباسي، له لمانځه پرته بله اراده نه لري، نو هيڅ قدم نه اخلي مګر دا چې يوه درجه يې پرې لوړيږی او يوه ګناه يې ترې توييږي، تر دې چې جومات ته ننوځي، نو كله چې جومات ته ننوځي دی په لمانځه كې دی، ځكه چې يوازې لمونځ ايسار كړی دی، او ستاسو څخه پر يو تر هغه وخته پورې ملايكې درود وايي چې دی په هغه ناسته كې وي چې لمونځ يې په كې كړی دی، وايې: ای الله رحم پرې وكړه، ای الله بښنه ورته وكړه، ای الله توبه يې قبوله كړه، تر څو يې چې اودس خراب شوی نه وي او داسې كار يې نه وي كړې چې خلک او ملايكې پرې ازارېږي«.

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت كړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر وركوي چې مسلمان كله په جماعت سره لمونځ وكړي، نو هغه لمونځ يې په كور يا بازار كې د لمانځه څخه څه د پاسه شل ځلې غوره دی. بيا يې د دې لامل بيان كړ، هغه دا چې يو سړی كله اودس وكړي؛ بشپړ او ښايسته اودس وكړي، بيا جومات ته ووځي، د لمانځه پرته يې بل څه نه راوباسي، نو هيڅ قدم نه اخلي مګر دا چې يوه مرتبه او درجه يې پرې لوړيږي او يوه ګناه ترې لرې كيږي. نو كله چې جومات ته ننوځي او د لمانځه په انتظار كې كښني، نو د لمانځه اجر او ثواب وركول كيږي تر څو چې دی د لمانځه انتظار باسي، او ملايكې ورته تر هغه دعا كوي چې د لمانځه په ځای كې ناست وي، وايي: "اللهم اغفر له، اللهم ارحمه، اللهم تُبْ عليه" "ای الله بښنه ورته وكړه، ای الله رحم پرې وكړه، ای الله توبه يې قبوله كړه" تر هغه ورته دا دعا كوي تر څو يې چې اودس نه وي مات كړی يا يې داسې كوم كار نه وي كړی چې خلک او يا ملايكې پرې ازارېږي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee